ليکنه او څېړنه: محمد حليم فدايي،
د ميدان وردگو والي
۲۰۱۱/۰۷/۲۸

# د اسلام له نظره ټولنيز خوځښت

(ولا تکونوا کالذين تفرقوا و اختلفوا)

**لړليک**

عنوان مخ

مقدمه: ۳
ټولنيزخوځښت څه ته وايي؟ ۵
ټولنيزخوځښت څه وخت شروع شوی دی؟ ٦
ټولنيزخوځښت د چادنده ده؟ ۱۱
دټولنيزخوځښت پيغام او وسايل څه دي؟ ۱۳
څوورانديزونه: ١٤
علوم دينی، عصريويامطلق؟؟؟ ۱۵
ماخذونه: ۲۰

**مقدمه:**

زما څخه زما محترم پلار(الحاج رازمحمد فدايي) چي د ښووني او روزني په وزارت کي د حلالي روزي د ګټلو په لټه کي دی او تر ډېره حده د ښه ايمان او پوخ يقين پر لرلو سره تر ما ځوان ښکاري!!،او زما د زده کړې او روزني تر شاه دده ستر لاس وو او چي دا نن څه يم دده له برکته ده. له ما وغوښتل چي د (Social Mobilization) ( يا ټولنيز خوځښت ) په اړه په ځانګړي ډول د اسلام له نظره يو څه وليکم. رېښتيا داده چي د ولايت له بوختياوو سره سره ليکني کول ډېر ستونزمن کار دی، دا چي د پلار امر وو، ما ورته (لبيک) وويل. زه خپله دغه ليکنه خپل پلار ته ډالۍ کوم او هيله ده چي ددې ليکني هر لوستونکی نوموړي ته د ښه صحت او د ايمان د سلامتۍ دعا وکړي.

کله نا کله په افغاني ټولنه کي په ځانګړي ډول د غير دولتي موسسو له راتګ سره او هغو دوستانو چي په بهرنيو تعليمی موسسو کي زده کړه کړيده او اوس د ډېرو بهرنيو هيوادونو په شتون سره داسي يو تصور او ولسی انګېرنه ايجاد کړېده چي ګواکي يوازې د انګريزي کلماتو په استعمال سره هغه مفهوم خارجي دي او يا داچي د خارجيانو ايجاد دي. د مثال په ډول، جندر(Gender) ( د ښځي او نر ترمنځ عادلانه برابری)، د بشر حقونه (Human Rights)، ولسواکي (Democracy)، سيستم (نظام)، اين جی او (غير دولتی موسسي)، انتخابات، (Science)، سوشل موبلايزيشن (ټولنيز خوځښت) او دې ته ورته نورې ډېري کلمي.

**د دې ډول انګېرونو تر شاه لاندي لاملونه پراته دي:**

۱.دا کلمات په سم ډول افغاني ټولني ته نه دي تشريح شوی، دهغوي معادله کلمه مو ورته نه ده پيدا کړې او تر ډېره برېده مو دهغي تر لفظي ترجمي بسنه کړېده او مفهوم مو ورته نه دي تشريح کړی. د ټولو مفاهيمو جوهر او تاريخچه که تشريح شي دا بدې انګېرني سمېږي.

۲. د افغاني ټولني مطلق اکثريت له علم او زده کړي څخه محروم شويدی او دا هڅه مو نه ده کړېده چي ددغو کلماتو مفهوم او رېښي په خپلو دودونو، تاريخی متونو، ادبياتو او اسلامی منابعو کي ولټوو.

۳.زموږ اکثريت دينی عالمان يوازې د فقهي علومو تر ظاهري زده کړي پوري محدود دي او هڅه يی نه ده کړي چي د عصر له غوښتنو سره تطابق ورکړي او د عصري علومو پوهانو ددېني زده کړو سره د خپلو زده کړو مطابقت نه دي کړي او تل ددغو دوو علومو ترمنځ يو ډول مرموز ټکر او بدبيني موجوده ده. دا چي د عصري او ديني علومو ترمنځ څه توپير شته او کنه؟ زما د يوه کتاب (د سولي قلم) څخه (علوم دينی، عصری و يا مطلق؟) را اخيستل شوی مضمون حتما په پای کي ولولوي.

۴.فقر او د اقتصادي ودې کمزوري. عصريت، انکشاف او پرمختګ هغه ساحي دي چي ډېری ځل دغه مفاهيم په خپله خپل مفهوم په اصلی بڼه څرګندوي.

۵.دتاريخ په اوږدو کي زموږ ولس هرچا ته د دوستۍ لاس ورغزولی دی، او موږ ته هرچا د خپل مطلب تر پوره کېدو وروسته نه داچي يوازې شايي راته نه ده ګرځولي بلکي د خپلي دوستي په جرم! يي ټکولي او ځورولي هم يو.



افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکي په ځير و لولئ

پورته عواملو زموږ ولس له یو ډول پر ځان د بې اعتمادي او بي باوری له حالت سره مخ کړيدي. داسي ولسي انګیرنه یی ایجاد کړیده چي ګواکي زموږ ولس هیڅ نلري او هرڅه بهرنیان لري او یا داچي موږ هرڅه لرو، بهرنیان هیڅ نلري. دا دواړه انګیرني له مبالغې ډکي دی او موږ باید پر خپلو زده کړو انتقادي څېړنه او مرور وکړو او ددغو دوو افراطي انګیرنو ترمنځ د اتصال نقطه پیدا کړو.
د علامه اقبال لاهوري د خودي نظریه دنوموړی د فلسفي اساس دی. په حقیقت کي له ځانه پردو او مایوسه مسلمانانو ته ګوت څنډنه ده چي خپل ځان ته حرکت ورکړي او له خپلو داخلی قوتونو او منابعو څخه ګټه پورته ترڅو خپلو لوړو هدفونو ته ورسېږي. علامه اقبال په دې باور دي چي شرق خپل ریښتینی هویت چي اسلامی هویت دی له لاسه ورکړیدي او باید هماغه ته وګرځي. نوموړي وایي: څرنګه چي یو وګړي کله نا کله د خپل شخصیت په تزلزل او ورکېدا اخته شي، له خپل ځان څخه فاصله نیسي او یا له ځانه پردی کېږي. خپل ځان ورته پردي، بیګانه او اضافي پرزه ښکاري.

په داسي حال کي که موږ خپل تاریخ ته وګورو زموږ ولس، ټولنه او حکومت د ستر برم څښتن وو. د افغانستان پخوانی صدراعظم مرحوم موسی شفیق د افغانستان د تاریخی موقف په اړه وایی:
دبستان کي د آسیا چي زه اســـتاد وم تا لوستله هغه وخـــــت کي سیـــپاره
مخ د تور شه اوس زما د سر سودا کړي ته او خدای چي پر همـــدغه قـــواره
د شرق نابغه علامه اقبال بیا د آسیا او افغانستان دواړو په اړه وایی:
آســیا یک پیکر آب و ګل اســـــت ملت افغان آن در آن پیکر دل اســــت
از کشــــــاد او کشـــاد آســـــیا از فســــــاد او فســــاد آســــیا
داچي موږ ځان او جهان نه دی پیژندلی، ستونزه داده چي ډیری ځل موږ یو بل د خپلو کتابونو او ایډیالوژیو پر بنسټ نه، بلکي د یو او بل د کړنو پر بنسټ ارزوو. دا په داسي حال کي چي د هر مسلمان عمل لازمي نه ده چي هغه به د قرآن او حدیث برابر وي. همدا زموږ مسلمانانو ستونزه ده، باید حل یي کړو، کنه زموږ کړني به د اسلام، افغان او حتی انسان په اړه غلط تصور نړیوالو او حتی بیسواده وګړو ته وړاندي کړي.
رسول الله صلي علیه وسلم فرمایي: چي د د قیامت له علایمو څخه یوه داده چي لمر به د شرق پر ځای له غرب څخه راغېږي. دي کي شک نشته چي د قیامت له را تلو سره به دا ټول نظام ګډوډیږي او لمر به په فزیکي ډول له غرب څخه راغیږي، هغه کوم عادی دوران چي اوس طی کوي، دا به سرچپه کېږي. اما زما په اند دا تفسیر ورنه هم کولای شو، چي شاید دلته لمر له علم سره تشبیه شوی وي، ځکه حقیقت دادی چي علم له شرق څخه غرب ته تللی وو او اوس موږ ګورو چي ټول پرمختللی علوم له غرب څخهشرق ته راځي (والله اعلم بالصواب). زموږ بریالیتوب پردې کي دي چي خپل ځان هم په عصري او هم په اسلامي علومو سمبال کړو چي هم دا د غرب او شرق، اسلام او نوري نړي ترمنځ د اتصال ټکی کېدای شی.
د اکتوبر په ۷، ۱۹۸۷ میلادي کال کي کینن ټیلر د کلیسا د کانګرس په وړاندې په والورهمټن کي یو مقاله ولوستله چي ښاغلي آرنوډ په خپل کتاب (The Preaching of Islam)د اسلام تبلیغول په ۷۱ صفحه کي نقل کړیدي: دغه (اسلام) بیزوتوب (حیوانیت) په انسانیت تبدیل کړ. دا غلام ته هیله وربخښي، انسانیت ته وروروليی او د انساني طبیعت اساسي فاکټونه (توکي) وریپژني.

زه غواړم په دې لیکنه کي دا وضاحت وکړم چي ټولنیز خوځښتڅه ته وایي، ددې تاریخ څه دې؟ د چا دنده ده؟ ټولنه وپښوونکي څوک دي؟ په ټولنیز خوځښت کي د پیغام اهمیت، په ټولنیز خوځښت کي د ولس مشارکت، ټولنیز وسایل او منابع د ټولنیز خوځښت لپاره څه ډول بسیج او خوځنده کړو؟

**ټولنیز خوځښت څه ته وایي؟**
ټولنه له فرد، دهغو لپاره د موجودو منابعو، فرصتونو او له هغه ګروپونو څخه چي د وګړي د سمون، تغییر او تبدیل لپاره منځته راځي جوړه شویده. فرد ته ټولنیز یا اجتماعي حیوان هم وایي. یا په بل عبارت، د حیواناتو او انسانانو ترمنځ یو د مهمو توپیرونو څخه ددوي ټولنیزتوب دی. ټولنیزتوب دیوځای کیدو، یوځای اوسیدو، یوځای راټولیدو، یو ځای کارکولو او یو ځای ژوند کولو له لاري چي د ژوند هر اړخ تر پوښښ لاندي نیسی، د ګډ لرلید، هدف، مقصد او فعالیتونو په موخه ترسره کیږي منځته راځي.
ټولنیز خوځښتهغه دي چي ټولنه داسي هر اړخیز علم او خوځنده شعور او متحرک فکر څښتن شي چي د خپل ګډ لرلید په موخه یی عمل کولو ته مجبور کړي. په ټولنیز خوځښت کي یوازي د علم زیاتېدل او یا ټولنیز ویښتوب (Social Awareness) کفایت نه کوي او ورسره د فکر سمون هم بسنه نه کوي. ریښتینی ټولنیز خوځښت هغه دی چي علم زیات، فکر دعلم مطابق سم، تغییر او یا تبدیل شی او ددواړو پر بنسټ مناسب چلند او سلوک اختیار ترڅو ټولو


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ

بدیهی است امتیاز طالوت بر سایر بنی اسرائیل تنها در معارف الهی نبود، بلکه آگاهی و مدیریت در امور نظامی و سیاسی که در نهاد این جوان هوشیار و مدبر وجود داشت، نیز مورد توجه و استدلال بوده است.
٦-در داستان داود (علیه السلام) نیز تعلیم صنعت لبوس (علم زره بافی) را یکی از افتخارات بزرگ او می‌شمرد بلکه «لبوس» به گفتهٔ طبرسی در مجمع البیان هرگونه اسلحه دفاعی و تهاجمی را شامل می‌شود و منحصر به زره نیست، می‌فرماید: «و علّمناه صنعة لبوسٍ لکم لتحصنکم من باسکم.»
٧- در سورهٔ کهف در داستان موسی و خضر، از علوم و دانشهایی سخن می‌گوید که از سوی خضر (ع) به موسی (ع) آموخته شده و هیچ کدام از آنها از علوم و معارف دینی به معنی خاص نبود، بلکه از علومی بود که جامعهٔ انسانی را طبق نظام احسن اداره می‌کند، می‌فرماید: فوجدا عبداً من عبادنا اتیناه رحمةً من عندنا و علّمناه من لدُناً علماً در آنجا (موسی و دوست همسفرش یوشع) بنده‌ای از بندگان ما را یافتند که او را مشمول رحمت خود ساخته و از سوی خود، علم فراوانی به او تعلیم داده بودیم.
و سپس در آیات بعد، سه نمونه از این علوم را مشروحاً بیان می‌کند که هیچ کدام از علوم و معارف دینی نیست، بلکه همهٔ آنها مربوط به تدبیر امور زندگی است.
٨- در سورهٔ نمل از آگاهی سلیمان نسبت به چگونگی سخن گفتن پرندگان سخن به میان آورده و آن را به عنوان یکی از افتخارات سلیمان که به آن مباهات می‌کرد ذکر می‌کند: «و قال یا ایُّها النّاس علّمنا منطق الطّیرگفت ای مردم زبان پرندگان به ما تعلیم داده شده است
٩-در اواخر سورهٔ کهف در داستان ذی القرنین، سخن از سدّ سازی او به عنوان یک واقعه مهم به میان آمده، و حتی جزئیاتی از چگونگی تدبیر او در امر ساختن یک سدّ نیرومند آهنین، برای جلوگیری از هجوم قبایل فاسد و مفسد (یأجوج و مأجوج) را بیان می‌کند: «آتونی زبر الحدید حتّی اذا ساوی بین الصّدفین قال انفخوا حتّی اذا جعله ناراً قال اتونی افرغ علیه قطراً قطعات بزرگ آهن را برایم بیاورید (و آنها را روی هم بچینید) تا هنگامی که کاملًا میان دو کوه را بپوشانید، سپس گفت (در اطراف آن آتش بیفروزید و) در آن بدمید (آنها دمیدند) تا قطعات آهن را سرخ و گداخته کرده، گفت اکنون مس مذاب برایم بیاورید تا بر روی آن بریزم». این موهبت نیز علم و دانش سد سازی بود.
١٠ در سورهٔ لقمان نیز در آیاتی که شرح وصایای لقمان را به فرزندش می‌دهد به یک سلسله دستورات برخورد می‌کنیم که جنبه روانشناسی و اجتماعی و مردم داری دارد که رعایت آنها برای همگان در زندگی نیز مهم و کارساز است، از جمله اینکه به پسرش دستور می‌دهد نسبت به مردم بی‌اعتنایی و ترشرویی نکن، مغرورانه بر زمین راه نرو، در راه رفتن اعتدال را رعایت کن، بلند سخن نگو و فریاد نکش و صبر و شکیبایی و استقامت در کارها داشته باشد.
این درحالی است که خداوند مقام لقمان را به خاطر برخورد از موهبت علم و حکمت و دانش، بزرگ داشته است، تا آنجا که سخن او را در کنار سخن خویش قرار داده است
١١-در سورهٔ سبأ در شرح حال سلیمان، سخن از برنامه‌های گسترده عمرانی وهنری به میان آمده است، که پریان زیر نظر سلیمان، انجام می‌دادند «یعملون له ما یشاء من محاریب و تماثیل و جفان کالجواب و قدورٍ راسیاتآنها هر چه سلیمان می‌خواست (و دستور می‌داد) برایش درست می‌کردند. معبدها و تمثالها و ظروف بزرگ غذا همانند حوض‌ها و دیگهای ثابت»
و در آیهٔ قبل از آن، به دستیابی سلیمان به دانش ذوب فلزّات، اشاره کرده می‌فرماید: «وارسلنا له عین القطرما چشمه‌های مس (مذاب) را برای او روان ساختیم»
١٢-در سورهٔ بقره، درباره زمامداری داود پیامبر، می‌فرماید: «و قتل داود جالوت و آتاه الله الملک و الحکمة و علّمه ممّا یشاء داود جالوت را کشت و خداوند، حکومت و دانش را به او بخشید و از آنچه می‌خواست به او تعلیم داد»
روشن است، علم و حکمت در اینجا دانشی است که برای تدبیر ملک و مملکت لازم است و اگر معنی وسیعتری نیز داشته باشد، این بخش از علوم مربوط به کشور داری و نظام حکومت را قطعاً شامل می‌شود.
ساز مجموع اشاراتی که در آیات فوق و بعضی دیگر از آیات قرآن وارد شده، به خوبی می‌توان استفاده کرد که برخلاف پندار کسانی که تصوّر می‌کنند، قرآن تنها به علوم دین و معارف الهیّه اهمیت داده و سخنی از علوم دیگر به میان نیاورده است، قرآن برای این بخش از علوم اهمیت فوق العاده‌ای قائل است و آن را از مواهب بزرگ الهیّه می‌شمرد و مسلمانان را تشویق به فراگیری هر گونه علم مفید و نافع در زندگی مادّی و معنوی می‌نماید.
یادداشت: په افغانستان کې يو د نا امنی لامل د علم بشپړه نه پېژندنه او تعريف او د هغې ويشل په دينی او عصري علومو دی. قرآنکريم د محمد صلی الله عليه وسلم معجزه او د بشريت لپاره تلپاتې آسمانی اساسی قانون دی چې د هر عصر غوښتنو ته ځواب وايي. لهذا د عصري او غير عصري تفکيک په خپله د ملا او مکتبي يا په بل عبارت د مدرسي او پوهنتون ترمنځ د اختلاف را منځته کول دي. زموږ په تاريخ کې تل ځينو حلقو دا هڅه کړېده چې د کليوال او ښاري او ملا او مکتبي په نومونو زموږ ولس وويشي او ولس ته داسې وښيي چې جنتيان يوازي طالبان او ملايان دي او مکتبيان ټول دوزخيان يا له الله تعالي څخه ليري نور څوک دي او مکتبيان تل داسي ښودل شوي چې ګواکې دوي روښن فکر! او خدانخواسته ملايان تاريک فکر! دی. دا هغه فکري مرض دی چې د شيطاني علم پيروان يې


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېرلو مخکې په ځير و لولـئ

زمونږ ټولني ته پیچکاري کوي. په داسي حال کي چي مدرسه او مکتب دواړه د لیک او لوست ځای ته وایي او دواړه عربي کلمي دي. په خلیج او عربي ملکونو کي ښوونځیو ته مدرسي وایي. زمونږ په ټولنه کي د مدرسي له نوم سره جوخت یوازي داسي انګیرل کیږي چي یوازي دیني زده کړه او د مکتب له نوم جوخت دا تړلی ده، چي یوازي دنیاوي علوم.

اسلام علم فرض کړیدي او هر نافع علم چي د ټولني او انسانانو په درد وخوري او دنیا او اخرت دواړه ورباندي جوړ شي هغه علم دي. راځي د مکتب او مدرسي ترمنځ داسي یووالي رامنځته کړو چي څوک دا اعتراض ونکړي چي ملا ددنیا په چل نه پوهیږي او مکتبي د اخرت! د رسول الله صلی الله علیه وسلم حدیث دی چي وایي: د اخرت لپاره داسي کار وکړه لکه چي دا نن مري، او ددنیا لپاره داسي کار وکړه لکه چي تل ژوندي یې. همدارنګه مونږ په پنځه وخته لمانځه کي همدا دعا کوو چي (ربنا اتنا فی الدنیا حسنه و فی الاخره حسنه و قنا عذاب النار). دلته په اخرت او دنیا دواړو کي د (حسنه) غوښتنه شویده.

مونږ باید ټولني ته داسي وګړي وړاندي کړو چي ددین د پوهي ترڅنګ په دنیوي امورو پوهه وي او د دنیوي کارونو ترڅنګ په دیني امورو پوهه وي. ددین او دنیا د علومو امتیاز په ټولنه کي طبقاتي ویش رامنځته کوي، او په نتیجه کي اختلاف او بي اتفاقي منځته راځي او همدا حالت د ټولني سوکالي له ګواښ سره مخامخ کوي.

پای

**ماخذونه:**


۱. قرآن کریم
۲. ټولنیز خوځښتونه شلمي پیړي ته ننوتل – چارلس ټیلی، ۱۰ اکتوبر ۲۰۰۳
۳. ټولنیز حرکتونه: د هغه څه لنډیز چي کار ورکوي – چارلس ډابسن – آګسټ ۲۰۰۱
۴. خودی در اندیشه اقبال لاهوری
۵. په افغانستان کي د مدني ټولو د ونډي په اړه تاریخ منظر – محمد حلیم فدایي – مارچ ۲۸، ۲۰۰۷
۶. ټولنیز خوځښتونه – ویکیپیډیا ویباسایټ
۷. د اسلام تبلیغ – کینن ټیلر – اکتوبر ۷، ۱۹۸۷
۸. د غربي فلسفي تاریخ – برټراندروسل – ۱۹۴۸
۹. د اسلام د پرمختګ په اړه د غیر مسلمو عالمانو نقل قولونه – ګنی ویبپاني
۱۰. د ټولنیز خوځښتله لاري د ټولني غښتلی کول – پنځم فصل – لیکنه
۱۱. په اساسي زده کړو کي د ولسي ونډي او ټولنیز خوځښتد روزني لاسوند - – ۰۱۷ – ۸٤۷ – ۹۸٤ :ISBN ٤یونسکو، ډاکه، بنګلادیش، د اګامي د چاپ او نشر موسسه
۱۲. THE SOCIOLOGICAL QUARTERLY Vol. ٤۲/No. ٤/۲۰۰۱د هارورډ پوهنتون د ټولنپوهني د ډیپارټمنټ استاد زیاد مونسن لیکنه.
۱۳. حج، احکام او حکمت یی، محمد حلیم فدایي – ۲۰۱۰ کال
۱۴. په اروپا کي د مسلمانانو سیاسی تنظیمونه او مذهب– سپټمبر ۲۰۰۶ – لیکوالان: کرولین ایم وارنر او مانفریډ ډبلیو وینر.




افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ